قاصد
QASED
Strategic Research Center

# ۱۱مه ګڼه

(۱۹–۲۵ جولای ۲۰۱۹م)

(۲۸ سرطان – ۳ اسد ۱۳۹۸ هـ ش)

# د جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور



قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکیلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري او دغه اوونیز راپورترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو پام رااړول دي.

www.qased.org
info@qased.org
077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال د جولای له ۱۹مې تر ۲۵مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د چنگاښ له ۲۸مې د زمري تر ۳مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي.

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې په دې اوونۍ کې ښکېلو لورو ته د اوښتې مرګ‌ژوبله کچه د وړاندې اوونۍ په پرتله یو څه راټیټه شوې وه. په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو لپاره تر ټولو خونړۍ پېښه د تخار ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې وشوه، چې لږ تر لږه ۳۷ تنه افغان سرتېري پکې ووژل شول او ٦ نور پکې ټپیان شول همدا راز په دې اوونۍ کې بیا هم د ملکي خلکو ډېره مرګ‌ژوبله د هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو او همدا راز د سړک غاړې ځای پر ځای شوو ماینونو د چاودنو له کبله وه.

دلته په ترتیب سره افغان ځواکونو، د دولت وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو او بهرنیو ځواکونو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د جولای ۱۹مه:**

د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله یو محلي پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندز ښار په لومړۍ امنیتي حوزه کې د طالب وسله‌والو په برید کې یو پولیس افسر وژل شوی دی.

د فاریاب ولایت په فیض آباد ولسوالۍ کې پر امنیتي پوستو د وسله‌والو طالبانو په برید کې د سیمه‌ییزو پولیسو یو قوماندان وژل شوی او یو پولیس ټپي شوی دی.

په کابل ښار کې د کابل پوهنتون په دروازه کې د موټربم چاودنې له کبله یو ترافیک پولیس وژل شوی دی.

**د جولای ۲۰مه:**

د کابل او کندهار پر لویه لاره د پولیسو یو رنجر موټر، چې د میدان ښار په لور روان و د وسله‌والو طالبانو په کمین برابر شوی، چې له کبله یې ۴ پولیس وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په قرغان ولسوالۍ کې د طالبانو په کمین کې یو پولیس وژل شوی او د ملي امنیت د یوه کارمند په ګډون پنځه افغان پوځیان ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲۱مه:**

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د سیمه‌ییزو پولیسو د یوه قوماندان په ګډون ۴ پولیس په ګردېز ښار کې د ماین په چاودنه کې وژل شوی او شپږ پولیس یې ټپیان شوي دي.

د فراه ولایت په فرهمند ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو پر یوه کاروان د طالبانو په برید کې ۳ افغان پوځیان وژل شوي دي.

**د جولای ۲۲مه:**

د هرات ولایت په کوشان ولسوالۍ کې ۳ افغان پوځیان، چې په یوه ملکي موټر کې د اسلام قلعې بندر په لور روان وو، د طالبانو له لوري وژل شوي دي.

**د جولای ۲۳مه:**

په فراه ولایت کې وسله‌والو طالبانو پر یوې پوستې برید کړی، چې له امله یې ۴ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د پکتیکا ولایت په ښرنه کې په یوه موټر کې د ځاي پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله د ملکي وګړو ترڅنګ ۳ پولیس هم وژل شوي دي. په وژل شوو کې د پکتیکا ولایت د متاخان ولسوالۍ قوماندان هم شامل دی.

**د جولای ۲۴مه:**

په کندهار ښار کې د ناپېژاندو وسله‌والو موټرسایکل سپرو په برید کې یو پولیس افسر وژل شوی دی.

د فاریاب ولایت په المار ولسوالۍ کې د پولیسو پر یوه مرکز ډله‌ییز برید وکړ، چې په پایله کې یې یو سرتېری او یو د ملي امنیت کارکوونکی وژل شوي او ۴ نور پوځیان ژوبل شوي دي.

**د جولای ۲۵مه:**

د تخار ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې د طالبانو د سرې قطعې وسله‌والو دوه امنيتي مرکزونه تر خپل کنټرول لاندې راوستلي، چې په پایله کې یې ۳۷ تنه افغان پوځیان وژل شوي او ٦ نور ټپيان شوي دي. په وژل شوو کې ۲۴ يې د ملي اردو پوځیان دي او ۱۳ نور پولیس دي. ټپیان بیا ټول پولیس دي.

د غور ولایت په مرکز فېروزکوه ښار کې یو پولیس افسر د ناپېژاندو وسله‌والو په برید کې وژل شوی دی.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۳۰ | ۸ | ۳۸ |
| پولیس | ۳٦ | ۱۸ | ۵۴ |
| مجموعه | **٦٦** | **۲٦** | **۹۲** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د جولای ۱۹مه:**

د غزني ولایت په ناوه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې د وسله‌والو طالبانو د استخباراتو د مسوول په ګډون ۱۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د جولای ۲۰مه:**

د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ په خواجه خېلو سیمه کې وسله‌والو طالبانو غوښتل، چې خپل چاودېدونکي توکي د چاودنې لپاره چمتو کړي؛ خو موخې ته تر رسېدو وړاندې چاودلي او له امله یې ۲۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان دي.

د هلمند ولایت په موسی قلعه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په ځانګړو عملیاتو کې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

همدا راز د هلمند ولایت په نهر سراج ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په عملیاتو کې یو وسله‌وال طالب وژل شوی دی.

د پکتیا ولایت په احمد آباد ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو غوښتل، چې د سړک تر غاړه ماین ځای پر ځای کړي؛ خو ماین پر دوی چاودنه کړې او ۳ وسله‌وال طالبان پکې وژل شوي دي.

**د جولای ۲۱مه:**

د فاریاب ولایت به پلخراغ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوایي بریدونو له امله ۲۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د بلخ ولایت د کهنه چمتال ولسوالۍ په آسیاب گرگ سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د افغان کماندو ځواکونو په عملیاتو کې ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور یې ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲۲مه:**

د زابل ولایت په دای چوپان ولسوالۍ او د ارزگان ولایت په خاص ارزگان کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتو پرمهال ۱۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۳ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲۴مه:**

د غزني ولایت په دوو ولسوالیو زنخان او اندړو کې افغان ځواکونو پر طالبانو بریدونه کړي، چې له امله یې ۳ وسله‌وال طالبان په زنخان او ۳ نور په اندړو ولسوالۍ کې وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په المار ولسوالۍ کې د طالبانو د برید پر مهال ۳ طالب جنگیالي وژل شوي دي.

**د جولای ۲۵مه:**

د غور ولایت په مرکز فېروزکوه ښار کې یو وسله‌وال بریدگر د پولیسو په ډزو کې وژل شوی دی.

**جدول : د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتي مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۱۴ | ۲۷ | ۱۴۱ |
| مجموعه | ۱۱۴ | ۲۷ | ۱۴۱ |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله

**د جولای ۱۹مه:**

د کابل ښار د دربمې امنیتي حوزې اړوند د کابل پوهنتون جنوبي دروازې ته څېرمه په یوه موټر کې د ځای پرځای شوو چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله ۸ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۳ نور ټپیان شوي دي.

د غزني ولایت په خوګیانیو ولسوالۍ کې د سړک پر غاړې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله د یوه ماشوم په ګډون ۵ ملکي وګړي وژل شوي دي.

په کندهار ښار کې پر یوه پولیس افسر د ناپېژاندو موټرسایکل سپرو په برید کې ۲ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د کندز ښار په لومړۍ امنیتي حوزه کې د طالب وسلهوالو په برید کې ۲ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د بادغیس ولایت په بالا مرغاب ولسوالۍ کې د یوه هوایي برید پر مهال ۳ ملکي وګړي وژل شوي دي. د برید پر مهال په سیمه کې کوم وسلهوال کس هم نه و.

**د جولای ۲۰مه:**

د بادغیس ولایت په بالا مرغاب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوایي بریدونو کې د دریو ماشومانو او دوو ښځو په ګډون ۱۰ ملکي وګړي وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲۲مه:**

د لوګر ولایت په برکي برک ولسوالۍ کې د کوچیانو پر کېږدۍ د امریکایي ځواکونو د هوایي بریدونو له امله د دریو ښځو او څلورو ماشومانو په ګډون ۸ ملکي وګړي  وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

د نیمروز ولایت په مرکز زرنج ښار کې یو څارنوال د نامعلومو وسلهوالو له لوري ترور شوی دی.

**د جولای ۲۳مه:**

د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې یو ملکي وګړی وژل شوی دی. د برید موخه د دولتیار ولسوال او نور چارواکي وو.

د بادغېس ولایت په بالا مرغاب ولسوالۍ کې د افغان پوځ د یوې چورلکې په راکټي برید کې یو ښوونکی وژل شوی او ۲ نور ملکیان ټپیان شوي دي.

د پکتیکا ولایت په ښرنه کې په یوه موټر کې د ځاي پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله د یوه ماشوم په ګډون ۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۳ ټپیان شوي دي.

**د جولای ۲۵مه:**

د کابل ښار په شپاړسمه حوزه کې د ملي بس څلور لارې ته څېرمه د کانونو او پطرولیم وزارت د کارکوونکو پر موټر چاودنه شوې، چې له امله یې د پنځو ښځو په ګډون ۱۱ ملکي وګړي وژل شوي او ۴۵ نور ټپیان شوي دي.

د ننګرهار ولایت په خوګیاڼیو ولسوالۍ کې د ملکي وګړو پر موټر چاودنه شوې، چې له امله یې د شپږو ښځو او درېیو ماشومانو په ګډون ۹ ملکي وګړي وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ٦١ | ١٠١ | ١٦٢ |
| مجموعه | ٦١ | ١٠١ | ١٦٢ |

## بهرنيو ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د جولای ۲۴مه:**

د کابل ښار د پنځلسمې حوزې اړوند تره‌خېلو سیمه کې د بهرنیو ځواکونو پر موټر چاودنه شوې، چې له امله یې یو بهرنی سرتېری وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي. وژل شوي او ټپیان د کورشیا هېواد وګړي وو، چې د ناټو ځواکونو تر چتر لاندې افغانستان ته لېږل شوي دي.

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د چنګاښ  له ۲۸مې د زمري تر ۳مې (د جولای له ۱۹مې تر ۲۵مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۳۹۸ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د یادولو وړ ده، چې په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو، وسله‌والو طالبانو او ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه د وړاندې اوونیو په پرتله پام‌وړ کمه شوې ده؛ خو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه بیا هم لوړه وه.

په تېره اوونۍ کې ۹۴ افغان سرتېري وژل شوي وو، خو په دې اوونۍ کې بیا د پام وړ کموالي ښودنه کوي او دا کچه ٦٦ ته راټیټه شوې ده. د وسله‌والو طالبانو د وژل شوو شمېره بیا تېره اوونۍ ۲۲۸ تنه وه، چې په دې اوونۍ کې نیمايي ته راټیټه شوې او ۱۱۴ تنه وژل شوي دي. همدا راز په تېره اوونۍ کې د ملکي وګړو د وژل شوو شمېر ۱۳۳ تنه و؛ خو په دې اوونۍ کې نژدې نیمايي ته راټیټ شوی او ٦١ تنه وژل شوي دي. په دې اوونۍ کې د مرګ ژوبلې د عمومي کچې ټیټوالی هیله بښونکی دی؛ خو په ورته وخت کې د افغان حکومت او وسله‌والو طالبانو په بریدونو کې د ملکي خلکو مرګ ژوبله د اندېښنې وړ ده او په ټوله کې د تاوتریخوالي د کموالي ښودنه نه کوي.

ملکي خلکو ته بیا هم د افغان او بهرنیو ځواکونو د هوايي بریدونو او شپنیو عملیاتو له کبله درنه مرګ ژوبله اوښتې وه، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې ورته پېښې تکرارېږي. تېره اوونۍ هم د میدان وردګو ولایت ولسونو په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې دغلته د ملکي مرګ ژوبلې په اړه حکومت ته ګوتڅنډنه وکړه، چې که د ملکیانو د مرګ ژوبلې مخنیوی ونه شي، دوی به له دولت سره پرېکون اعلان کړي؛ خو افغان حکومت یې په اړه کوم پام وړ ګام نه دی پورته کړی. همدا راز په دې اوونۍ کې بیا هم د وسله‌والو طالبانو له لوري په شوو چاودنو کې زیات شمېر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، چې د خورا اندېښنې وړ ده.

قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز د جګړې له ښکېلو لورو د تاوتریخوالي د کمولو او په ځانګړې توګه د ملکي خلکو ژوند ته د پاملرنې جدي غوښتنه کوي.

### جدول ۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګژوبله

| نوم | وژل شـــوي | نوم | تپیـــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ٦٦ | افغان ځواکونه | ٢٦ |
| د دولت وسله‌وال مخالفین | ۱۱۴ | د دولت وسله‌وال مخالفین | ٢٧ |
| ملکي وګړي | ٦١ | ملکي وګړي | ١٠١ |
| بهرني ځواکونه | ١ | بهرني ځواکونه | ٢ |
| **مجموعه** | **۲۴۲** | **مجموعه** | **١٥٦** |
| **ټول وژل شوي او ټپیان** | **۳۹۸** | | |

پای

**Contact Us:**

Dr. Abdul Baqi Amin – General Director:

director@qased.org

abdulbaqi123@gmail.com

0789316120

Hekmatullah Zaland – Deputy Director

deputy_director@qased.org

hekmat.zaland@gmail.com

0775454048

Office:

info@qased.org

www.qased.org

077 281 58 58